ارادې

د افغان نشراتي مرکز پنځلس ورځنی تحلیلی خپرونه

لومړی کال، څلورمه گڼه، دو شنبه د ۱۳۷۹ هـ.ش کال د جدی ۱۲، د ۱٤۲۱ هـ.ق کال د شوال المکرم ٦، د ۲۰۰۱ کال د جنوری ۱ نیټه د یوی گڼی بیه دری کلداری

PROPERTY OF ACKU

الهی فرمان

بی شکه چې مؤمنان ټول په دین کی سره ورونه دی، نو پس صلح او جوړښت کوی تاسی (ای مؤمنانو) په منځ د ورونو خپلو کې (تل تر تله) او وویریږی له الله تعالی څخه (په هر څیز او په هر وخت کی) او ځان ساتی له (معاصیوو) ښائی چې دربانديرحمت وکړ شی (له جانبه د الله).

(الحجرات، ۱۰ آیت)

نبوی ارشاد

ابوهریره وائی چې رسول اکرم (ص) وفرمایل: ای دخدای (ج) بنده گانو پخپل منځ کی سره ورونه شی یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه هغه ظلم مه کوی، مه ئی سپکوی او نه یې ذلیلوی، تقوی دا ده.

(متفق علیه)

د هیواد روحانی شخصیت او د افغانستان د اسلامی ملی محاذ مشر ښاغلی پیر سید احمد گیلانی:

د هیواد واکمنان دی له بین المللی ټولنی سره د ټکر پر ځای د ملت مرسته او رأیه وغواړی

یوازی پر طالبانو بندیزونه لگول د شمال متحدی جبهی ته د پیاوړتیا فرصت برابروی

ما شخصاً هغه وخت د لوئی جرگی غړو اوچت کړی ؤ چې په کمو خلکو کی ئې د تلویر د غوښتنی جرأت موجود ؤ

لوئی جرگی ته ترمخه مشر ټاکل او دا مسأله په یو شخص پوری تړل سم کار نه دی

اسلام آباد د قوس ۲۵: د هیواد روحانی شخصیت او د افغانستان د اسلامی ملی محاذ مشر ښاغلی پیر سید احمد گیلانی په هیواد کی د روانو حالاتو، د ملگرو ملتونو د بندیزونو د اغیزو، د لوئې جرگی د جوړیدو، په هغی کی د پخوانی پاچا محمد ظاهرخان د راتلو او د هیواد د روانی غمیزی د حل و فصل له امله د «ارادی» سره په ځانگړی مرکه کې گټوری او اغیزمنی لاری چاری ښودلی او په گوته کړې ئی دی.

د ارادی خبریال د دغی ځانگړی مرکی پر بنسټ خبر

(پاتی ۳ مخ)

د جدي د شپږمی د غنډنی: لیک: بهادر خپل

د حماسو اتلان د وینو په تالاب کې

د ځمکی پر مخ هر ولس د تجلیل او غنډنی ورځې لري. د تجلیل ورځې په ولسی جوش او جذبه سره لمانځی او د غنډنی ورځ غندي.

د افغانستان مسلمان ولس چې د نړی د مخکښو ولسونو څخه دی د تاریخ په اوږدو کې سرلوړی او آزاد پاتی شوی، خپل هسک سرې د چا په وړاندې نه دی ټیټ کړی.

دا ولس د تجلیل او غنډنی بې شمیره ورځی لری چې دلته د جدی د میاشتی شپږمې نیټی په اړه یو څه ویل په کار دی.

د نن نه یو ویشت کاله د مخه د ۱۳۵۸ هـ.ش کال د جدی شپږمه نیټه د یو تور باب، غمجن بدلون او تباه کوونکی تحول پیلامه وه. د جدی په شپږمه د نړی ستر استکباری ځواک (د وخت شوروی اتحاد) خپل تریو لک زیات جنگی لښکر چې د هر قسم جنگی وسلو او مرگونی وسایلو څخه

(پاتی ٦ مخ)

بقلم: غازی

تعصب مادرِ تبعیض، نفرت و عقده ها

تعصب به همان اندازه ایکه دارای انواع و اقسام مختلف است، به همان تناسب دارای منابع و مصادر متعدد و گوناگون نیز می باشد.

محیط اجتماعی افراد بشر از جمله، بزرگترین منابع تعصب ارزیابی شده است. خاصتاً محیطی که در آن از مقررات قانونی و اخلاقی و همچنان از تهذیب و تمدن، خبری نباشد، تا مردم از آن متابعت نمایند. از همین جاست که در فضا و محیط قانونی و مهذب یا نسبتاً متمدن، اشخاص متعصب، کمتر به نظر می خورد.

محیط فامیلی نیز در ازدیاد و تقلیل انواع تعصبات، رول بارزی بازی میکند. بطور مثال در فامیلی که اعضای رئیسه، آن سخت گیر و دکتاتور مشرب هستند و تاحدی به پرورش روحی و اعتلای ذهنی اطفال خود وقعی نه گذاشته و بیعلاقه می باشند، مثلاً به طرح و پرسش های معقول و طبیعی اطفال خود توجه ضروری مبذول نمی دارند و یا اصلاً به آن اجازه نمی دهند و از عوالم بزرگ روحی و ذهنی اطفال بکلی بیخبرند، انواع تعصبات مرئی و غیر مرئی زیادی بوجود می آید، که به مرور زمان و برخورد، با زمینه های مساعد، بصورت حاد تری قد علم می کنند.

(بقیه ص ٤)

سرمقاله

د لوی او ښښونکی خدای په نامه

افغانستان کی ملگرو ملتونو او جنگي ډلو ته څه کول پکار دی؟

دا چی د ملگرو ملتونو سازمان د امنیت شورا له خوا د طالبانو پر اسلامی تحریک بندیزونه لگیدلی او د نوموړی سازمان عمومی منشی جلالتماب کوفی عنان هم په دی اړوند وایی چی دا بندیزونه به د سولی د خبرو اترو په دوام او په عامو افغانانو ناوړه اغیزی ونه لری. نو ځکه افغانانو د دغو بندیزونو په تیرو بیا د ملگرو ملتونو د مذاکراتو او د کورنیو عواملو په هکله خپل غبرگون ښودلی دی.

افغانان وایی که څه هم ملگرو ملتونو د افغانستان له پاره د مذاکراتو لړی د پخوانی شوروی اتحاد د سرو پوځونو د یرغل له وخته پیل کړیده او تر ننه پوری ئی د جگړی د دوام د بهرنیو عملی مداخلو او په ډلو، ټپلو د افغانانو د ویشلو پرته بل پایلیک نه درلود. د بیلگی په توگه د بینان سیوان، محمود مستری، ډاکتر هول، لخدر براهیمی او فرانسس ویندرل ماموریتونه ټول د افغانستان د غمیزی د اوږدوالی لاملونه دی. دغو باصلاحیتو استازو د افغانانو سره په لیدلو کتنو کی د حقایقو د معلومولو د دندی (Fact Finding Mission) له نامه پرته بله خبره نه

(پاتی ۲ مخ)

د امریکا بندیزونه او د افغانانو نظرونه

(۳ مخ)

روغه - جوړه: تورپالی ځاځی

د افغانی فرهنگ تاریخی میراث

حضرت علی (رض) چې د اسلام څلورم خلیفه او د حضرت محمد (ص) د کاکا زوی او زوم و د اسلام د ډیرو سترو پوهانو څخه گڼل کیږي، هغه وایي چې: «د ښښنی فضیلت د قدرت په وخت کې معلومیږي او عفوه او تیریدل د آزادو خلکو خوی دی.»

رښتیا هم چې د انتقام خوند او خوشحالي له یوې د قیقی څخه زیاته ته وي، مگر د عفوې او ښښنی خوند او خوښي ابدی ده.

زموږ په هیواد کې

(پاتی ۵ مخ)

د این شماره:

یك نظر اجمالی (تبصره) ص ۲

ووایم که نه وایم ۲ مخ

یا زه نه وای ... یا زه ۵ مخ

اختر (شعر) ص۵

کشور از خون شهیدان وطن بسته حنا عید ما روز عزائیست که من میدانم

(استاد پژواك)

اراده

د تأسیس کال: ۱۳۷۹ هـ.ش

پنځلس ورځنی آزاده تحلیلی خپرونه

د امتیاز خاوند: افغان نشراتی مرکز

مؤسس: سید داؤد

مسوول مدیر: عتیق الله پژواک

د کتونکی ډلی په مرسته

پوست بکس: ۹۰۹ یونیورسټی ټاون پیښور

تیلفون: ۴۱۶۹۱، فکس: ۸۴۱۷۸۵

E-mail: daud@amrc.pwr.sdnpk-undporg.

د سرمقالی پاتی برخه

درلوده. چی دا کار دی عالی جنابانو ته په زړه پوری او له امتیازه ډک ماموریت او مشغولا وه.

د افغانستان په اوسنی روان ناورین کی د بندیزونو لګول په طالبانو د ټولو نه زیات پر عامو وګړو اغیزه لری. د تیر کال بندیزونو وښوده چی طالبانو لا هم جګړه تونده کړه او ولس یوې ګولی ډوډی، دارو درملو او ژوندی پاتی کیدو ته حیران وو له دی څخه دا جوتیږی چی بیا هم ددی بندیزونو او وچکالیو قربانی ملت دی نه جګړه ماران. ملګری ملتونو تر هغه ځایه چی د بشری مرستو خبری کوی د افغانانو په اند متأسفانه چی دا بشری مرستی هم په تیرو اتو کلونو کی د وسله والو له لیاری په افغانانو ویشل شوی دی مستحقینو ته په پوره ډول ندی رسیدلی او د ویش کار یی هم د باصلاحیته چارواکو له خوا څارل شوی هم ندی. دا بشری مرستی چی تیر کال یو سلو څلویښت ملیونه ډالر اعلان شوی چی زیاته برخه یی د ملګرو ملتونو د مامورینو مصارف، یو څه اندازه یی په دوی پوری تړلو افغانانو، د افغانستان ټوپک والاوو ته او یوه لږ اندازه یی د عامو چارو د سمون یا د خوراکی موادو له پاره تری استفاده شویده نو زیاتره دا مرستی هم د جګړی په خړه پړه فضا کی په غیر عادلانه ډول ویشل شویدی. همدا رنګه د ملګرو ملتونو د امنیت په شورا کی د بندیزونو نوښتګران امریکائیان او روسان دی بیا هم که لږ څیر شو ویه وینو چی د افغانستان د روانی غمیزی مسوول پخوانی شوروی اتحاد او د هغه اصلی وارث روسان او د دوام مسوولین یی امریکائیان دی. همدا رنګه د دواړو د مرستی او څارنی لاندی د ژنیو مذاکرات، د راولپنډی شورا، د جبل السراج معاهده او د طالبانو پرمختګونه ترسره شویدی.

ددی پینبو په رڼا کی د روسانو او امریکائیانو موخه د افغانانو اسلامی، ملی غرور ماتول دی. هغوی د ترهګرو، د مخدره موادو د تولیدوونکو او د بشری حقونو د پایمالونکو په تورونو ونومول شول چی دا د ملګرو ملتونو د لیاری ذ جهاد دوری د دوستانو او دښمنانو وروستی ډالی ده. همدا ډول په دی توره تیاره او ملی ماتم کی د افغانانو هیله د ملګرو ملتونو څخه د یو پخوانی وفادار غړی په توګه دا ده چی د ناکامو تجربو تکرار او بی ځایه ناندرو په ځای دی د بهرنیو مداخلو بندول، د جګړی د رول او د افغانستان خلکو ته د خپلی خوښی سره سم د رائی حق ورکولو زمینه برابره کړی نه بی ځایه بندیزونه او تشی خبری اتری.

افغانان نن ددی ناخوالو سره سره د تنظیمونو او طالبانو څخه هم مانیجن او ګیله من دي ځکه چې دوی هم بهرنیانو ته دا موقع برابره کړه چی په افغانستان باندی داسی ملنډی ووهی او د هغوی په کورنیو چارو کی دی مداخله وکړی. افغانان همدا اوس د مهاجرت وچکالی او راز راز مصیبتونو په اور کی سوځیږی مګر چارواکی د بهرنیو تر سیوری لاندی جګړی کوی او د ورور وژل، کور او هیواد ورانول روا بولی. طالبان په پیل کی د جګړی د بندولو د بی عدالتیو ختمول او ملت ته د واک د سپارلو تر شعار لاندی راپورته شول ولس ورسره مل شو کابل یی هم ونیو مګر د افسوس خبره ده چی بیا د تنظیم یا حزب په ځای تحریک رامینځته شو، د تحریک ګټو ته په ملی ګټو دروندوالی ورکړ شو او د هیواد په ټولو چارو او راتلونکی باندی یوازی طالب حاکم شو. دا ده یوه اړخیزه په زوره واکمنی او ترڅنګ یی د ملګرو ملتونو یو اړخیز بندیزونه. نو که چیری د طالبانو اسلامی تحریک او متحده جبهه د ملت ارادی ته احترام ونه کا، د هیواد والو دوه ویشت

(پاتی ٦ مخ)

تبصرهء این شماره

یك نظر اجمالی بر مذاکرات ذات البینی افغانها در عشق آباد

(دشتی)

اولین دید و وادید دو گروه متخاصم سیاسی/ نظامی در حال جنگ، در افغانستان، به تاریخ ۱۲ دسمبر سال جاری در عشق آباد پایتخت ترکمنستان، در دعوتی، بصورت غیر رسمی صورت گرفت.

کریدت این گرد هم آئی عجالتاً و موقتاً به شاغلی فرانسس وندرل و شاغلی مراد نیازوف مرتبط می شود و ما افغانهای بیچاره هم، مثل همیش، به آن دل خوش هستیم تا باشد که این دل خوشی ما تا چه وقت دوام خواهد کرد به قول مرحوم پژواك:

خوردیم نیم عمر فریب امید ها
نیم دگر به بیم فریب دگر گذشت

در قدم اول هرگز نمی توان چنین گرد هم آئی ها را بد گفت و یا بر آن انتقاد کرد و نباید هم چنین کاری کرد، چه اقدامیست نیك و مصلحت آمیز، اما مانند اکثر چیز های دیگر شرط و شروطی هم دارد، که از آن جمله است نیت پاك و دل صاف و بی غش و کینه و به قول شاعر: «عنصرش بی مکر و دل بی غش و جانش بی فتن» که آنرا می توان جنبهء خوب آن به حساب آورد و در غیر این صورت باید گفت که این نوع دید و بازدید ها دارای نقایص زیادی هم می باشند، اعم از نقایص روحی و فزیکی هر دو.

به این معنی که اولاً در مردم بیچاره امیدواری هائی پیدا می کند و بعد از مرور چند روزی، این امیدواری ها را به یأس و ناامیدی مبدل می سازد و چون این پراسس و عملیه چند باری تکرار می شود، طبعاً به یأس و ناامیدی کلی تبدیل می شود که حالتی است ناگوار، مضر و زیان آور که آنرا مرگ تدریجی خوانده اند.

از طرف دیگر ناکامی چنین گرد هم آئی های سیاسی، بدون فراهم سازی زمینهء مناسب و سازگار، جز ضیاع وقت چیز دیگری نیست، چه عنصر وقت برای همه و خاصتاً برای ما افغانهای بیچاره و در حال جنگ، گرسنه و فقیر، و دربدر، اهمیت زیاد حیاتی دارد، چه هر ساعتی که میگذرد صدها تن از جوانان ما به خاك و خون می غلطند و صدها خانه و کاشانه به ویرانه مبدل می شود، ده ها طفل یتیم و ده ها زن و مادر بیوه و بی فرزند می شوند.

ناگفته نماند که اکثر متخصصین «فن مذاکره»، در شروع کار، اهمیت زیادی به مذاکرات مقدماتی غیر رسمی قایل هستند تا بعد از چندی به آن رسمیت بخشند و تعهد و قرار دادی از آن به وجود آورند. چه در این نوع مذاکرات قید و قیودی وجود ندارد، اظهارات کسی ثبت نمی شود و هر کس می تواند به آزادی اظهار نظر کند.

به هر صورت چنانچه همه می دانیم ما افغان ها در (۲۰) سال اخیر از چنین مذاکرات دل خوشی نداشته و نداریم و در نتیجه جز مارگزیدگانی بیش نیستیم. چه قسمیکه قبلاً به آن اشاره شد اولاً زمینه، چنین مذاکرات چنانچه شاید به خوبی هموار نمی شود و ثانیاً میانجیگران و جرگه مار های این مذاکرات به اصل و بیخ و به عبارت دیگر به علت العلل این همه کشت و خون نه پرداخته و محض به فروع و شاخچه های آن چسپیده اند، به این معنی که:

ما و سازمان م.م و نیز تمام عالم بشریت به خوبی می دانیم که جنگ های داخلی افغانستان انعکاسیست رقابت های سیاسی اقتصادی ممالك موجود منطقه و دور دست ها، خاصتاً کشورهای همسایه ما، و ریشه های این همه برادر کشی ها از منابع تمویلی خارجی آبیاری می شود و علت اصلی آنرا مداخلات عریان

(بقیه ص ۵)

وایم که نه وایم؟

فدا محمد قابض

هو مذاکرات خو په کومو شرایطو؟!

د دسمبر پر دولسمه نیټه د ترکمنستان په پلازمینه عشق آباد کی د متحدی جبهی او طالبانو ترمنځ لومړی غیر مستقیمی او بیا غیر رسمی مستقیمی خبری وشوې. خدای خبر چې په دی خبرو کی څه وویل شول خو هغه څه چې بهرته را ووتل دا وو چې د ملګرو ملتو ځانګړی استازی فرانسس وندرل وویل چې زه له دی خبرونه راضی یم خو د خبرو دواړو لوریو چې کومی څرګندونی وکړې، دا وی چې خبری به دوام ومومي.

زه وایم چې خبری خو دی لس ځلی وشي، خو دا ډیره مهمه ده ځکه چې اول وی که آخر شخړه به د خبرو له لاری حل کیږي. ترکومه چې د نظامی ټکرونو خبره وه نو تر اوسه پورې خو ښایسته ډیر سرونه و کولیدل او ډیری میندی بورې شوی او ډیری میرمنی کونډی او ډیرو یتیمانو پر مخونو د یتیمی څپېړی وخوړي، خو کاشکی چې زموږ دغو ځوانانو که له د نیا نه لاسونه مینځل چې آخرت خوئې ګټیلای وی او د اسلام د ستر پیغمبر (ص) د وینا د «کلاهما فی النار» مصداق شوی خو نه وای، په هر حال کاشکی چې زموږ ښکیل لوری دی نتیجی ته ورسیږي او له زړه نه دا ومنی چې وینی په وینو نه مینځل کیږی او آخر د یو، هیواد بچیان یو، دین مو یو، مذهب مو یو، ملت مو یو، ګټه او تاوان مو یو او هدف او ارمان مو یو، نو بیا ولی یو د بل سینی ته ټوپک ونیسو!

ښایی د جنګ لوری هر یو د ځان لپاره څه مشروعیت پیدا کړی وی او ځانونه یی پری قانع کړی وی او یوه د بل وینی یی ځانونو ته حلال ګڼلی وي، خو ملت یی ورسره نه منی او نه پری قانع کیږی، ځکه په اسلام تر دوی ور اخوا نور خلک هم پوهیږي او هغه عالمان چې د افغانستان په نارامه ساتلو کی څه سیاسی، اقتصادی او یا نور غرضونه نه لري، ټول اوسنی جنګ د دوه ورونو جنګ بولی او د دی جنګ خاتمه غواړي.

زه خو وایم چې تر مذاکراتو د مخه لومړی دا ضرور دی چې ښکیل اړخونه دیوه اصل په توګه پر دی توافق وکړی چې جنګ د حل لار نه ده؛ ثواب پکی نشته، سرلوړی پکی نشته او د ملت دردونه او کړاوونه لاپسی زیاتوي. که پاکستان دیوه اسلامی هیواد په توګه د کشمیر په څیر یوی معضلې د حل لپاره په کراتو کراتو هندوستان ته د خبرو وړاندیز کولای شي نو افغانان پخپلو کی ولی له خبرو وتښتی؛ خو خبره دا ده چې تر خبرو د مخه پکار دی چې لومړی د خبرو او مذاکراتو ضرورت احساس کړی شي، دویمه په خبرو کی دی ځان ته ډنډی و نه وهل شي بلکی د ملت خیر او مصالح دی په پام کی ونیول شي او د دی خیر لپاره دی هر یو تنازل ته غاړه کښیږدی او دریم دا چې کړو ژمنو ته دی التزام موجود وي که داسی وی چې په یخ یی ولیکه او لمر ته یی کښیږده، په دی صورت کی خو تر خبرو، نه خبری ډیری ښې دي؛ ځکه په خواشینی سره چې د درانه لیکوال ښاغلی شفیقی د خبری په تایید، زمونږ په ټولنه کی ډیرو مفاهیمو خپل ارزښت له لاسه ورکړ

(پاتی ٦ مخ)

د هیواد روحانی شخصیت او د افغانستان ...

راکوی: ښاغلی پیر سید احمد گیلانی صاحب د ملگرو ملتونو د نویو بندیزونو په هکله وائی چې:

په هر بندیز سره د افغانستان ملت متأثره کیږي. که څه هم دغه وروستي بندیزونه یواځې پر طالبانو لگېدلي یا لگول کیږي خو له دې نه څوک سترگې نه شي پټولای چې زیان یې عامو خلکو ته رسیږي. خو یو بل ټکي ته هم پام اړول ضروري دي او هغه دا چې د افغانستان د فعلي ستونزو او مشکلاتو په نظر کې نیولو سره د دغه هیواد واکمنان باید تروسه وسه د بین المللي ټولنې سره له ټکر کولونه ډډه وکړي او تل په سترو ملي مسایلو کې د ملت رأیه او مرسته وغواړي.

دا ځکه چې که دغه بندیزونه په مجموع کې پر افغانستان تأثیر کوي. په دې ترتیب یې د افغانستان پر لانجې هم اثر پریوځي. چون پر قضیې او د هغو پر حل اثر کوي نو په دې دلیل زه هیله کوم چې مثبت اثر وکړي تر څو د ملت رنځ او غم لنډ شي.

دا چې حاضر بندیزونه صرفاً پر طالبانو لگیږي نو په طبیعي توگه د شمال متحدې جبهې ته په نظامي او غیر نظامي برخه کې د ځان د تقویې او اکمالولو فرصت ورکوي.

محترم پیر صاحب په هیواد کې د لوئی جرگې د جوړیدو په هکله وویل:

طالبانو باید د مخه هم ملت او په ملت کې مؤثر شخصیتونو ته مراجعه کړې وای، لویه جرگه یې را غوښتې وای. اوس هم هیله ده چې دوي د اوضاع نازکوالی درک کړي او د هغو په نظر کې نیولو سره دوي دغه ضرورت ته متوجه شي، د ملت رأیه او مرسته وغواړي، ښه نظام جوړ کړي او ټول مشکلات د ملت په مرسته حل کړي.

ده زیاته کړه: ما شخصاً هغه وخت د لویې جرگې غړی اوچت کړی ؤ چې په کسو خلکو کې یې د تدویر د غوښتنې جرأت موجود ؤ. **او زه تر هر چا ښه پوهیږم چې د لویې جرگې تدویر او د هغو د ځای او تاریخ ټاکل آسانه کار نه دي. په دې برخه کې باید په ډیر احتیاط او نهایت مسؤولانه توگه قدم واخیستل شي.** ځکه چې د ځای انتخاب د لویې جرگې له کامیابی او ناکامی سره مستقیم تړاو لري او په هغو کې رول لوبوی، په همدې ترتیب د لویې جرگې ترکیب د هغې په کامیابی او ناکامی کې رول لوبوي.

جناب پیر گیلانی صاحب د لوئی جرگی د جوړیدو له پاره د خپلو هڅو داسی یادونه کوی:

په رښتیا سره می د جهاد له پیل څخه د لویې جرگې او د خلکو ارادې ته د احترام کولو غړی اوچت کړی دي. او دا مې د ستونزی د حل یواځینی لار بللی ده. خو په دغه لار کې باید صادقانه قدم واخیستل شي او شخصي اغراض پکښې د خیل نه کړل شي. او که څوک واقعاً په اخلاص سره په دې لار کې قدم اخلي زه ورسره ملگری یم او همکاری ته آماده یم.

زه فکر کوم چې لویې جرگې ته له اوله مشر تعیینول سم کار نه دي. او نه دغه تاریخي موسسه باید په یوه شخص پورې و تړل شي. کنه نو د لویې جرگې را بلل د څه لپاره؟

دوی د پخوانی پاچا د هلو ځلو په هکله وویل:

زه فکر کوم که لویه جرگه را وبلل شي نو پخوانی پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه به د جرگې مشر و تاکي ځکه چې دی څلویښت کاله د دغه هیواد پاچا ؤ، د ده په وخت کې آرامي او سوله حاکم وو، پرمختگونه شوي وو او وطن د ودې پر مخ روان ؤ. البته لویه جرگه باید یوه واقعي جرگه وي چې د خلکو د ارادې تمثیل وکړي. او بیا دا د لویې جرگې صلاحیت دی چې د افغانستان د مشرتابه په هکله تصمیم ونیسي.

بیا هم وایم چې لویه جرگه یعنی خلکو ته پخپل سرنوشت کې د څه ویلو حق ورکولو د حل لاره ده. تیرو ترخو تجربو دا په ډاگه کړې ده چې هیڅ یو شخص او هیڅ یوه ډله په ځانگړې توگه نه شی کولای او نه دا حق لري چې د ټول ملت لپاره تصمیم ونیسي. د ځانځاني طریقه یوه ناکامه او مردوده طریقه ده.

ښاغلی پیر صاحب د بهرنیو مداخلو په باب وائی:

افغانستان د علامه اقبال په قول د آسیا زړه دی. که افغانستان نا آرام وي ټوله آسیا او زموږ سیمه به ورسره نا آرامه کیږي. نو زموږ د هر گاونډي خیر په دې کې دي چې په افغانستان کې سوله او استقرار وغواړي او کنه د جگړو او بی ثباتیو ناوړه عواقب به دوی ته هم زیانونه ورسوي. دنیا هم باید د افغانانو او سیمې د خیر لپاره داسی اقدامات وکړي چې دغه لاسوهنې بندې شي.

دوی په هیواد کی د جگړی له ښکیلو اړخونو وغوښتل چې:

زه له دواړو اړخونو غواړم چې له خود خواهیو تیر شي، د ملت رأیې او ارادې ته مراجعه وکړي او هغه محترم وشمیري او د هغسی لویې جرگې په رابللو کې مرسته وکړي چې پکې جید علما، د قومونو مشران، جهادی شخصیتونه او باتجربه او پوه کسان را غونډ شوي وي. یعنی یوه واقعی لویه جرگه نه تش په نامه لویه جرگه، دا جرگه باید په ټولو ملی او بین المللی ضمانتونو سره تشکیل شی.

د مرکی په پای کې (بقیه ص٦)

د امریکا بندیزونه او د افغانانو نظرونه

د امریکا تعزیرات مختلف وجوهات لری

عبدالقهار محمودی

زه لومړی د «ارادې» د خپرونی چلونکو نه مننه کوم چې د نظریاتو اوریدلو او خپرولو زیار باسی، کیدای شی دا د تفاهم او سولی مهمه ذریعه وگرځی.

په افغانستان باندی د امریکا لخوا تعزیرات مختلف وجوهات لری چې د طالبانو د حکومت رسیدلونه وروسته پیل شوی.

د امریکا د تعزیراتو بدداغیزه مستقیماً په افغان ولس د د، طالبان په هر طریق د خپلو جنگیالیانو، پلویانو له خوا اکمال کیږی، هغوی د عربو خصوصاً د کومو کسانو له خوا چه په افغانستان کی ورسره دی د مادی مرستو نه ئی برخمن دی. بناءً امریکا باید د خلکو حالاتو ته وگوری. او نباید عوام د سیاست په لومو کی ډوب او غرق شی.

د امریکا او نړیوالو ادارو تعزیرات او قطع علاقه له طالبانو سره نه بلکه د افغان ولس سره دی، ځکه طالبان د افغانانو نمایندگان ندی او نه د اسلامی حکومت نمایندگی کولای شی.

پیشنهادونه ډیر کیږی او شوی، مهمه د هغو پلی کول دی. طالبان نباید د فرد د مصلحت په مقابل کی په بشپړ د توگه ملت له نظر د وغورځوی.

عربان که چیری په افغانستان کی د جهاد په نوم اسلامی نظام غواړی ولی فلسطین ته نه ورځی چه بیت المقدس د یهودانو په قبضه کی دی. زه فکر نکوم چه که د تورن شویو تروریستانو شړل د افغانی دود مخالف. او بی غیرتی وی او دا چه ټول ملت در په درد شوی د پردیو په کوڅو کی گرځی او بی عفته شول دا به غیرت وی.

د امریکا او ملگرو ملتونو ادارو ته هم پکار دی چې په افغانستان کی د امن او واقعی سولی په راوستو کی دی خپلو هلوځلو ته دوام ورکړی تر څو شخړه ختمه او افغانان خپل په کور کی سره غونډ شی.

امریکا از روسها و انگلیس ها پند بگیرند

مولوی رحیم الله عزیزی

تهدید امریکا بر طالبان نه تنها مخالف اسلام بلکه، خلاف عاطفه، انسانیت نیز می باشد. زیرا انسان از انس گرفته شده است که به معنی لطف خوش است. اعتراضات امریکا بالای افغانها همان اعتراضات بهانه جویانه، عبدالله ابن ابی منافق بود که بالای نبی کریم(ص) میکردند.

این تعزیرات فعلی امریکا از دیدگاه اسلام هیچ تاثیر منفی بالا مسلمان ندارد، زیرا قرآنکریم یك هزار و چهار صد سال قبل برای مسلمانان خبر داده است. یهودان با کیفر کفر خود در بین مسلمانها منافقت می کنند چون به ایشان گفته میشود از کفر نفاق خود روی گردان شده بنور اسلام خود را مزین نمایند میگویند که ما اصلاح کنندگان هستیم (سورة بقره).

البته تاثیرت ظاهری این تعزیرات در قدم اول بالای رعیت و مظلومان و در مرتبه دوم بالای زعماء خواهد بود.

باید گفت که تطبیق این تعزیرات اگر چه در ظاهر مربوط به امریکا می شود، اما در واقع اگر خداوند(ج) نخواسته باشد، نمی تواند احدی بالای یك منطقه تعزیرات را جبراً بقبولاند. اگر امریکایی ها به اسلام عقیده ندارند، اقلاً از روسها و انگلیس ها پند بگیرند و ازین نوع فعل جابرانه، خود روی گردان شوند.

محمد داود چکری مگوید:

ضدیت ها بیشتر در رژیم ها است تا در ملت ها.

«اقوام متحده» با قیودات وضع کرده، خود نمی تواند به حل بن بست مسأله افغانستان نایل گردد. این قیودات تأثیر به سزائی بر حکومت طالبان نخواهد داشت، جز اینکه مردم عامه را تا سرحد «فاقه ترین ها» متضرر سازد.

اقوام متحده باید بن بست کنونی را ریشه یابی دقیق نموده و در زمینه اقدام نماید، تا بازتاب دهنده ی «صادقانه ترین» هویت «اقوام متحده» در برابر مردم عادی و مجبور افغانستان باشد، اگر چه حاوی «زشت ترین صورت» در برابر رژیم.

قیودات وضع شده، خود آبیست در ریشه ی زهری قضیه که بیشتر از پیش در «رویش» آن مدد می کند تا در کاهش آن. و ثمرش زهریست در کام عامه ی مردم.

امریکا نباید سنگ اختلاف سیاسی رژیم خود را در لفافه، «متحده» به فرق «اقوام» پرتاب کند چرا که ضدیت ها بیشتر در رژیم هاست تا در ملت ها.

«قیودات موجوده» نه تنها جنبه، «بشر دوستی» نداشته بلکه جنبه، «بشر دشمنی» را در خود دارد.

افغان لیکواله او شاعره، ورمه سبا:

دا بندیزونه د جگړی بندول نه د ډوډی بندول دی

دا کار به طالبانو ته ضرر وی خو امریکا ځکه ښه کار نه دی کړی چې زموږ غریب ولس پکې تباه کیږی. د افغانستان حالات خو دا ډیرو مشورو وران کړل. ملگرو ملتونو د افغانستان له پاره څه کړیدی؟ کومی ښځی ته ئی مرسته ورکړی چې اوس د هغوی حقوق یادوی، امریکا خو

گرانبوه کوی د (پاتی ٤ مخ)

د امریکا بندیزونه او د افغانانو نظرونه

جنگ خبری خوری خوشیبی ئی ترخې دي.

امریکا په دی بندیزونو سره طالبان نشی بی وسلی کولی بلکه جگړه لا تودوی. مور د طالبانو له مخالفینونه هم کومه ښه خاطره نلرو. هیڅ ښه کارئی نه دی کړی باید دغه بندیزونه په هغوی هم ولگول شی. تر دوی خو طالبانو یو څه امن راوستی دی زه دیوی افغانی په حیث وایم که م.م غواړی په افغانستان کی جگړی پای ته ورسیږی په افغانستان کی دې د بندیزونو پر ځای د تعلیم او پوهنی ودی ته پام وکړی. افغانان دی پریږدی چې پخپله خپل حکومت جوړ کړی نو په دغه وخت کی به امن راشی، کار به اهل کار ته ورکړ شی، افغانان به پښو ودریږی او پردیو ته به اړتیا نلری. طالبان دی د ښځو مشروع حقوق په عمل کې ورکړی.

دا بندیزونه ځکه ممکن نه دی چې زموږ گاونډیان مسلمانان دی. صله رحمی په کی شته له افغانانو سره به مرسته کوی د امریکا دا کار له ترحم نه لری کار دی. د یو «شوم» له پاره دی ټول «روم» نه سوځوی. په هیواد کې پاتی خلک خو نه د تیښتی توان لری او نه د ژوند تیرولو. باید د جگړی دواړه لوری بی وسلی کړای شی. د افغانستان ټول امتیازونه دی ورڅخه واخستل شی. په دی دوو لسیزو کی هیڅ چا هم افغانستان ته خدمت نه دی کړی. امریکا د طالبانو دفترونه نه بندوی بلکه د خلکو ډوډی بندوی دا خو وسله نه ده. طالب نه دی. دا د سولی لاره نه بلکه د جگړی لاره ده بدمرغی او بدبختی ده د تعزیراتو پر ځای دی پر جگړه بندیزولگوی.

پوهنیار سهیلا فضل ضیأ استاد پوهنتون:

تعزیرات مصیبت دیگری بر ملت ما است

من معتقدم که تعزیرات نتائج کمتر دارد. مردم بیچاره و عادی از آن متضرر میگردند. از یك طرف خشکسالی، قحطی و از طرف دیگر این مصیبت. تعدادی از هموطنان ما که به کشورهای همسایه رفته و یا به اروپا، اما اکثریت مردم هنوز در کشور استند این کار به ملت ما خیر نمی رساند و فقط وسیله دیگری برای کشتن مردم عادی خواهد شد.

این کار یك خساره نقد است بمردم ما اما ضررش به مسعود و طالبان نمیرسد. تعزیرات باید بر همه طرفها وضع شود. یکی هم به درد بخور افغانستان نیستند. باید از آنها سلاح گرفته شود نه اینکه نان از مردم عادی، طالبان را تنها اسامه هم تمویل کرده میتواند ولی مردم عادی چه بکند.

عوض این مسایل به حقوق زنان توجه شود. حقوقی شرعی و اسلامی شان داده شود و آن هم در حجاب اسلامی، نه در فرهنگ غربی. ما نه فرهنگ آنها را کار داریم و نه تعزیرات آنها را. دو نسل ما از بین رفت، عقب مانده بودیم و حال از آن بدتر شدیم.

افغانی شاعره او لیکواله زرمینه ستانکزی:

امریکا د بشر د حقوقو په پلمه د بشر حقوق پیمالوي

چې یې مینه زړه کې نه وي
تویوی د یو بل وینه

زه وایم دا بندیزونه هم پر مور د پردیو د لاسه دی. او تطبیق یی هم د هغوی کار دی. که څه هم امریکا له یوه پلوه د بشر د حقوقو دعوه کوی او له بله پلوه دیوه عظیم جگړه ځپلی ملت بشری حقوق ترپښو لاندی کوی.

طالبان د گاونډیانو له خوا استعمالیږی کله چې دوی د هغوی خبره و نه منی نو بیا فشار پری راوړل کیږی. د بده مرغه چې دوی له افغانستان سره ډیره زړه دښمنی لری. دوی په افغانستان کی د سرسړی نه پریږدی د دغو بندیزونو ترشا نور دی. هغوی خاص اهداف لری. غواړی چې زموږ عام خلک زیانمن شی په افغانستان کې د جگړو د وینو تویولو له امله وینه نشته نو مینه هم له منځه تللی یو شاعر وائی:

انسانان ژوندی په مینه
څومره ئې وینه هومره مینه

محمد نسیم ریحان:

امریکا دی د افغانانو پر زخمونو مالگی نه دوړوی

څرنگه چې زمونږ خبیر هیواد وال خبر دی چې د افغان مقدس جهاد له بریالیتوب څخه وروسته تود او سوړ جنگ پای ته ورسیده خو امریکا د افغانانو په لاس اسلامی حکومت جوړول او د اسلامی نظام ټینگښت په افغانستان کی نشوای زغملای، نو د مجاهدینو د بدنامولو او له صحنی څخه ئی د ایستلو لپاره متهی را ونغښتلی. کوم وخت چې مایوس شول نو په بیلو بیلو پلمو ئې د افغان ولس ټکول پیل کړل او مخکی له دی څخه یې هم یو شمیر تعزیرات ولگول.

که امریکا په دی فکر کی دی چې طالبان به مجبور شی او د هغوی غوښتنو ته به مثبت ځواب ووایی نو فکر کوم چې پر طالبانو ئی نظر عادی ته د تعزیراتو تأثیر کم وی ځکه افغانان ډیر مظلوم او غریب خلک دی، هیڅ روزگار ورپاته ندی، جنگ هر څه ورځپلی دی. نو له دی بندیزونو سره به نور کړاونه هم ورزیات شی او د سوالگری لارې به ونیسی او بلآخره به د وطن که څه پاته وی نو هغه به هم له مینځه ولاړ شی.

نو زما نظر او پیشنهاد د ملگرو ملتو (خصوصاً امریکا) ته دا دی چې د افغانانو په زخمونو دی نوری مالگی نه دوړه وی. او کورنی جگړی ته دی نور دوام نه ورکوی «لکه څنگه چې په یو اړخ باندی وسله بنده ده او بلی ته وائی چې ته حق لری چې هر څه کوی». افغانانو ته دی موقع ورکړی او دا زمینه دی ورته برابره کړی چې خپل مشکل په خپله حل کړی او دا بندیزونه دی لری کړی او که نه وی نو په دواړو طرفونو دی وسلی بندی کړی. د افغانستان گاونډیان دی نه پریږدی چې د افغانانو په کورنی مسئله کی مداخله وکړی.

تعصب مادر تبعیض، نفرت و عقده ...

همچنانست حکومت های استبدادی و فاقد انضباط ضروری قانونی، که نه تنها منبع و مصدر انواع تعصبات می شوند بلکه باعث تشویق و ترغیب بیشتر آن هم می گردند، خاصتاً آن تعصباتی که با سیاست های مورد پسند آنها وفق می کند. مثلاً بر انگیختن سنی بر ضد شیعه یا تحریك دیگان بر ضد پشتون و پشه ای وغیره در کشور خود ما و یا عکس هر دو که مشت نمونه خروار است.

خلاصه اینکه تعصبات معمولاً زاده، احساس، عقیده و طرز تفکر می باشند، لذا خواهی نخواهی بالای قوه، ادراك و بینش، مبتلایان خود، تأثیر می افگند. خصوصاً احساس و عقایدی که در دوران صباوت به کسانی تزریق می گردد، طبعاً در سنین بعدی، طرز تفکر و شعور ایشانرا تشکیل میدهند.

به هر تقدیر آوانیکه این تعصبات از قوه به فعل می گرایند، در قدم اول باعث انواع تبعیض می شوند که در ذات خود قدم و مرحله، منفی دیگری به شمار می آید و بلای دیگریست که بر یك اجتماع نازل میگردد، اثرات ناگوار به بار می آورد و باعث تولید انواع (ایزم) ها می گردد.

انواع این (ایزم) ها به نوبه، خود به آیدیالوژی های مضر و ناسازگار مبدل می شوند که ما در کشور خود شاهد و ناظر آن هستیم، از قبیل مفکوره های منفی، قوم پرستی، نژاد پرستی، زبان پرستی و امثالهم.

ناگفته نماند که همین مرحله، آیدیالوژیکی، مرحله ایست که وقوع هرنوع واقعات نامرغوب در آن امکان پذیر می باشد و بیشتر باعث تقسیم یك اجتماع سالم، به اجزای ناسازگار و متفاوت می گردد.

چنانچه معلوم است، مدت مدیدیست که کشورما هدف این بالای سیاه تعصب و تبعیض قرار گرفته و اجتماع واحد و نسبتاً سالم ما را به اجزاء و (ایزم) های ضد و نقیض تقسیم کرده تا حدیکه هیچ قشر و طایفه ای از آن خلاصی نیافته است. از اقوام و قبایل متعدد ما گرفته تا اقشار دیگر اجتماعی و حتی علمای کرام وجید دینی و مذهبی ما که وظایف ارشادی خاصه، ایشان است و تعلیم یافتگان و منورین عزیز ما که با خون این ملت بیچاره و فقیر تعلیم دیده و تربیه شده اند و چشم امید ما متوجه و نگران ایشان بود، هیچ یك نتوانستند ازین طوفان مدهش برکنار مانند که نمونه های بارز این تقسیم و تفریق شوم را در حال و نیز در گذشته، قریب به وضاحت تام می بینیم و از اثرات نامیمون آن به سختی متأثر و متألم گردیده ایم که جنگ های داخلی موجوده می تواند شاهد ناقابل رد برای اثبات آن به شمار آید که مسلماً مایه، تأسف و تشویش هر دو می باشد.

از طرف دیگر چنانچه می دانیم، بازهم، این تبعیضات به نوبه، خود، از نقطه، نظر کمیت و کیفیت هر دو، باعث عکس العمل های مضرتری می شوند و حادثات سوئی را به میان می آورند تا حدیکه منجر به انواع عقده ها و منتج به اقسام نفرت ها و کینه ها در بین اعضا و افراد اجتماع ما می گردند.

ناگفته نماند که تبدل این همه تعصبات به تبعیضات و تغییر آن به عقده ها و نفرت، در آن واحد و به یکبارگی صورت نمی گیرد، بلکه مانند اکثر امراض ساری و مهلك دیگر اجتماعی دارای ادوار تکوینی و ارتقائی مشخص به خود هستند.

دور نمی رویم و نگاه سرسری ای به ماحول خود و اطراف و اکناف کشور خویش و ابنای آن می اندازیم، مثلاً می بینیم که قومی بر قوم دیگر، یا گروه و تنظیمی بر گروه و تنظیم دیگری از برادران هموطن خود به این یا آن بهانه، می تازد و تجاوز می کند و تا جائی که از دست ایشان پوزه است خسارات جانی و مالی، مادی و معنوی به ایشان می رساند و از هیچ گونه حرکات منافی اسلامیت و افغانیت، روی نمی گرداند. خلاصه چنین حادثات غیر انسانی بسا که تکرار و یا با عکس العمل های انتقام جویانه، ظاهراً، جبیره می شود.

از همین جاست که انواع عقده ها، نفرت ها و کینه ها، به (بقیه ص ٦)

محبوب شاه صفی زاده «فروتن»:

این تعزیرات از نگاه اسلام جنبه قانونی ندارد

این تعزیرات از نگاه ما بکلی قابل رد بوده، مسلمانان جز به خدا(ج)، به مرجع دیگری نباید متکی باشند. چون اسلام به ما استغناً فکر را یاد داده ما در مسایل داخلی و اجتماعی خود آزاد می باشیم و هر آن طوریکه لازم می باشد، عمل می کنیم. به هیچ مرجعی نقص نرسانده ایم لذا هر مرجعی که میخواهد در مسایل ما مداخلت کند آنرا قبول نداریم و از نگاه اسلام هیچ حیثیت قانونی ندارد. اگر اعضاً و افراد اجتماع باهم مرتبط و پیوند نداشته، منافع آنها باهم پیوند ندارند. پس مشکلات امریکا با ما چه است که همچو تعزیرات برای ما وضع می کند. آیا جز کشورهای اسلامی هیچ کشور دیگری نیست که جنایت نکند.

در این مسئله طالبان هم چندان متضرر نمیشوند. البته در صورتیکه همسایه های آن با آنها روابط حسنه و نیك داشته باشند و یاد آور می شویم، این تعزیرات هم اگر تطبیق شود. اداره طالبان نه بلکه ملت مظلوم و بیچاره از آن متضرر می شوند و بر مشکلات مردم زیاد می شود. و السلام

یا زه نه وای- یا زه؟! م.عمران

بایللی لوبه!

د پاکستان دیوی مشهوری ورځپانی خبر دی چې د «سک پور» په سیمه کی د یوه آس او خره ترمنځ د ځغاستی سیالی تر سره شوه، چې دغه دری کیلومتره واټن ځغاسته خره وګټله او په ویاړ یی د نوټونو امیل پر غاړه کی ورواچول شو.

د خره خاوند د ډولونو او اتڼ په بدرګه د «سک پور» ښارګوټی ته ورسول شو، خو د بایلونکی آس خاوند د سیالی له بایللو سره سم بی سده شو چې یوه ورځ وروسته مړ شو او د ماتی ذلت یی و نه زغملای شو.

پر سیالی ګټونکی خره بولی ولګیده تر دی چې بیه یی تر پنځه لکه کلدارو پوری ورسیده خو خاوند یی وویل چې نه یی پلورم، ښائي هغه ته د دومره ویاړ ګټونکی خره پلوزل د یو توهین په صورت ښکاره شوي وی.

په هر صورت، مور ته په دی کیسه کی ډیر عبرتونه دی څومره ویاړونه مو وبایلل او څومره ارزانه مو وبایلل؟!

د دی حساب څوک کولی شي!

خو مور لا ژوندی یو، لا بی پروا یو، د هغه آس د خاوند په څیر هم نه شوو چې د بل خره لوبه تری و ګټله، بی سده او مړ شو. زمونږ نه ګټیلی لوبه ولاړه، بایللی خو پر ځای پرېږده. خو د دی پر ځای چې لږ پری خړ او ملامت شو. لږ را ویښ او را په خود شو او لږ خپل شاوخوا ته وګورو چې څه لوبه روا شوه. له هر څه بی پروا او بی غمه یو. کاشکی زمور یوازی دیوی لوبی بایللی خبره وای، مور خو خدای مه کړه د هیواد د بایللو په درشل دریدلی یو.

کاشکی د چا خره زمور تر اسونو ګرندی منډه وهلی وای، بیا که د غسی بی پروا او بی غمه وای هیڅ خبره نه وه، خو افسوس چې مور هر څه بایلو خو داسی بی غمه او بی همه یو لکه هیڅ چې نه بایلو...

بلکی لکه مور چې لوبه ګټو او زمور خر د نورو له آس څخه ګرندی وی!!!

روغه - جوړه: د افغاني فرهنګ تاریخی ...

داخلي جګړه ډیره اوږده شوه او ښختلف لوري یې پیدا کړي دي. طبیعی افتونو او وچکالیو له دې دوامداري جګړې سره داسې بدبختی او ستونځې را منځ ته کړې چې په تاریخ کې ساری نه لري.

په داسی حال کی چې روغه جوړه او د بدو په وړاندې تیریدل زمونږ د فرهنګ او دین پخوانی میراث دی او په افغانانو کې د جګړو، مخالفینو او خوابدیو د حل او پخلاتوب اغیزمنه طریقه ده. که د تاریخ پاڼی واړول شي ټولو ته به ثابته شي چې زمور د تاریخ د بیلو بیلو پیښو د حل او د بیلو بیلو قومونو د خوابدیو د له منځه وړلو او پخلا توب اغیز ناکه طریقه، روغه جوړه ده. چې دا کار پخپله د همغې سیمی د خیر اندیشو مشرانو او پراخ نظره عالمانو پواسطه ترسره کیږي. دغې ملی افغانی عنعنې زمور د پښتو او د دې ژبې په ادبیاتو کې پراخ انعکاس موندلی چې مور به یې په دی لنډه مقاله کې مثالونه وړاندې کړو:

رحمان بابا وایي:

په ښه خوی له بد خوا هانو بی پروایم
په نرمی لکه اوبه د اور سزایم

د رحمن بابا په زمانه کې زمور د مسلمانو خلکو ترمنځ د پردیو استعماری قوتونو لخوا د نفاق، تعصب او ورور وژنې اوربل و. خو رحمان بابا هیڅکله هم د چا ملا نه وه تړلې، بلکه ټولو خلکو ته یې په خپلو اخلاقی لارښوونو سره دا درس ورکاوه چې له تشدد او جنګ څخه ډډه وکړی بلکه په خپل ښه خوی د بدخواهانو مخه ونیسئ. راځی چې د دې ژبی دا شعر هم ولولو:

بیا که نوبت صلح است و دوستی و عنایت
